AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۶/۰۲/۱۴

# دغه مې حالت دی، بې طبيب او بې درمانه يم

څنګه درته ووايم چې څومره پرېشانه يم
دومره پرېشانه يم چې ورک له خپله ځانه يم

تېره ورځ جومات مخې ته کېنا ايښی و، خلک وو
ما ويل که دا زه يم او نور تللی له جهانه يم

داسې ډېر پېښ شوي چې خپل کور مې غلط کړی دی
دومره لالهانده يم او دومره سرګردانه يم

وېښ چې يم ويده ښکارم، ويده چې يمه وېښ يمه
دغه مې حالت دی، بې طبيب او بې درمانه يم

سيوری مې نړدې شي، ترې نه وډار شم او منډه کړم
خدای خبر چې ولې آن په خپل ځان بد ګومانه يم

شپه وه، شرق باران و، زما ځاله يې را ړنګه کړه
خدايږو ګيله من ډېر له باران او له توپانه يم

زه هغه ګلاب يم چې په خوند د سپرلي پوه نشوم
زه خو وېرېدلی په سپرلي کې له خزانه يم

ياد مې شي روڼ ستوری وم، شغلې به خوريدې رانه
هېر مې دي چې څنګه غورځېدلی له اسمانه يم

تا سوې نارې کړې او زه ځورند سر ولاړ ومه
و مرغۍ! بپوسه يمه خدايږو که ناځوانه يم

سرې سترګې دې ځار شم ، زړه مې غواړي دواړه ښکل کړمه
څه وکړم (نعمانه) د حالاتو بنديوانه يم

نعمان دوست
٢٤/ ١١/ ١٤٠٤


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ